# د آریائي ژبو یو له بله نژدېوالی

## او د پښتو سره مقایسه

هغه وخت چي سړی د ژبو په لغاتو او کلماتو او اصواتو کښي فکر وهي، او هغه مواد چي پوهانو د ژبو د مقایسې لپاره مقرر کړي دي، ښه ئې پلټي، او ریښي او د جوړښت اصول ئې ګوري، نو د آریائي ژبو تر منځ ډېر قُرب او نژدېوالی مومي، او دا خبره څرګندیږي چي دغه ژبي له یوې کورنۍ څخه دي.

مور چي پښتو ژبي ته په دغه ډول ګورو، نو دا راښکاره کیږي چي پښتو ژبه له ټولو آریائي ژبو بیا په تېره له ویدي ژبي او سنسکریت او اوستا سره خورا مشابهت لري او د دغو ژبو عنصري مواد اوس په پښتو کښي داخل دي، او د دې ژبي تاریخي اصالت ښکاره کوي.

الفاظ او کلمات لکه نور حیه ذوات او ژوندي اشخاص دغسي مستقل شخصیت او ځانته ژوندون او د ژوندون اصول او قوانین لري، د لغاتو او الفاظو لپاره مور عناصر پیدا کولای سو، غالباً د مختلفو ژبو د الفاظو عنصر یو وي او دغه عنصر په خپل فطرت کښي معاني او مفاهیم لري، چي په هره ژبه کښي تطبیق کېدلای سي، په حقیقت کښي کلمات او الفاظ له اصواتو څخه جوړیږي، دوه درې ږغونه د یوې معنا لپاره عنصر ګڼل کیږي، او نور اصوات چي ورسره



زیات سي معنا ئې تغیر مومي. په دې لنډه څېړنه کښي به دلته پر دغه علمي اساس سم د پښتو او نورو آریائي ژبو نژدېوالی او مطابقت څه نه څه څرګند کړم.

لومړی باید هغه قانون چي د حروفو د اوښتلو په خصوص کښي موجود دئ وګورو، چي د یوه مخرج حروف عموماً او بیا د نژدو مخارجو توري یو له بله سره اوړي، او کله دا ابدال له لیرو مخارجو څخه هم بالواسطه کیږي، تر دې علمي قانون لاندي به نو کلمات وګورو: غویي د آریائیانو د ژوندانه مهم عنصر وُ، ځکه چي د دوی زراغت پیشه قوم وُ، په پښتو کښي د دې نوم عنصر (غ،و) دئ، په سنسکریت کښي ئې ګئو مفرد، ګاوس جمع ده په پښتو د غویو ګلې ته (ګورم) وایي.

دغه ماده په ټولو آریائي ژبو کښي سته په زړه جرمني ئې (چو) په نوې جرمني ئې (کو) په انګریزي ئې (کاوْ) بولي په سلاوي ژبه ګویاوو (ګورم) او په نوې سرویني ژبه ګوردار (غوبه) په روسي ګوویانیا (د غوایي غوښي) او ګوسو پودین (بادار) ګوس پوار (د جنوب سلاو حکام) بلل کیږي، یعنی د غویو خاوندان، چي په زړه سنسکریت کښي (ګوپ) نومېدل. له دغي مادې څخه د سنسکریت ګوترا (غوجل) هم دئ. چي وروسته پر کورنۍ او خاندان ـ اطلاق کېدئ (۱) پخپله په پښتو کښي د (غویي) له نامه څخه ډېر دغسي نومونه سته، چي عنصر ئې (غ،و) = (ګ،و) دئ، مثلاً غویی، غوا، غوجل (آغیل) غوبه (پاده بان)، غوبون، ګوروان (پاده بان)، غوباړي (مګس حیوانات)، ګوبا (زن ګاوهیکل احمق)، ګورم، ګوار، ګوی (پاده) او نور. که دغه کلمات مور له لوړو آریایي کلماتو سره کښېږدو، یا ئې د اوستا له (ګوو) د پهلوی د (ګو) او د پارسو د (ګاو، ګو) سره تطبیق کړو د آریائي ژبو نژدېوالی سره معلومیږي، وګورئ: په پښتو ګوار، ګویر، ګورم سره یو شی دي، دا کلمه په سنسکریت کښي

(گواره) وه. په پارسو کښي (گاواره) سوه چي کټ مټ هغه گوار تـه نژدې ده، ابن يمين وايي :

چون شير شرزه يک تنه مى باش در جهان
مانند گاو چشـــــم زگاواره بر مدار (۲)

ميکس ميولر مشهور د ژبو عالم ليکـي چـي : "شـعراء لـه الفـاظو څخه اشعار جوړوي که موږ هر لفظ ته په غور وگورو، نـو بـه ښکـاره سي چي دغه لفظ هم يو نظـم دئ، ولي چـي د دې چـاري ثبـوت کوي، چي زموږ پلرو او نيکونو پخوا کوم کار کړئ او کوم خيال ئې په ذهن کښي موجود وُ؟

مثلاً : د پتر (پلار) کلمه درې معناوي لري :

۱. غذا ورکوونکى
۲. ساتونکى
۳. مشرتوب کوونکى

دغه درې خيالات تينگـه اړه سـره لـري، او تعمـق او څيرتـوب څيني ښکاري، نو هر وخت چي موږ الفاظ په علمي ډول تجزيه کوو د انساني دماغ ډېر مهم رازونه او اسرارونه څرگنديږي. (۳)"

پر دغه اساس موږ د ژبې هر لفظ يو ځانته مستقل عالم گڼـو، او د تحليل له لاري ئې مهم مقاصد کشف کولای سو په سنسکريت کښـي پتى مشر او حکمدار او حافظ ته وايي، په آريائي ژبـو کښـې لومـړى عنصر پا (م) دئ، وروسته (ت،ر) هم ورسره ملگرې کيږي.

د پښتو پلار، پت، پالل، پالنه، پال لـه دغـي ريښـې څخـه دي، د (پ او ت) په عنصر کښې د ساتني او پالني معناوي پټې دي وگـورئ پيترى Pitri په سنسکريت کښي پلار دئ، يوناني پټر يـارک (بطريـق) هم دغه عنصر لري، د لاتيني پاتر، د جرمني او انگليسي واټر او فـادر چي د ټيوټن له فادر څخه جوړ سوي دي، د ايتـالوي پـادري، او د فرانسوي پير ټول د (پ، ت، ر) له عنصره مشتق دي. (۴)



ما Ma يوه ماده ده چي پـه فطـرت کښـې د (انـدازه کولـو، او ويشلو) معاني پراته دي، ځکه چي د مور وظيفه په کورنۍ کښي دغه کارونه دي تل غذا ويشي، او اندازه ئې کوي، نو په ټولو آريائي ژبـو کښي دغه ريښه له دغه نامه سره ځي، مثلاً : د پښتو مور چي دلهجې په اختلاف (مېر) هم بلله کيږي، گويا ريښه ئې هغه (مـا) ده چي پـه نورو ژبو کښې (ت،ر) هم زياتيږي، د سنسکريت ماتار، د اوستا ماتر، د يوناني ميتير، د لاتين ماتر، د سلاوي ماتر، د روسي ماتي، د جرمنـي مټـر، د انگريـزي مـدر، د ټيـوټن مـوادېر، د هسـپانوي او ايتـالوي مادري، د فرانسوي مير، دا ټول له يوه عنصره زېږېـدلي دي، بلکـي ډېر نور کلمات هم لرو، چي د (ما) له عنصره دي، مثلاً : (ماس) چـي په پښتو ئې مياشت او په پاړسو ئې (ماه) او په هندي (مهينـه) بـولي، په سلاوي ژبو کښې (مياټس) ده ـ وجه تسميه ئې دا ده چي مياشت د وخت اندازه کول کوي او په اکثرو آريـائي ژبـو کشـي لـه دغـي مادې څخه نوم جوړ سوئ دئ. (۵)

د ژبو ابتدائي مواد هم دغه مور او پلار او نورو خپلوانو نومونـه دي، او په ټولو ژبو کښي سته، نو ځکه د تطبيق کار هـم لومـړى لـه دغو نومو څخه شروع کيږي، د مور او پلار تحليلي څېړنه مو ولوسـته اوس به يو څو نور لغتونه هم شرح کړه سي:

(**ورور ـ خور**) : د لومړى نامه عنصري حروف (و،ر) دي، (واو) په (ب) هم اوړي لکه (ت) يا (د) هم ورسره راځي امـا خـور (خ، ت، ر) دي، چي (خ) په (هـ) او بيـا (س) او کلـه (ش) اوړي، (ت) کلـه وي، کله نه وي.

| پښتو | ورور | خور |
|---|---|---|
| سنسکريت | بهراتر | سواسار |
| اوستا | براتر | هونهار |
| يوناني | فراتر | |

| | | |
|---|---|---|
| لاتيني | فراتر | سوردر |
| تيوټن | بروتهار | سوستار |
| جرمني | برډر | شويستر |
| انګليسي | بردر | سستر |
| ايطالوي | فراټې _ فراټيلو | شواروا _ شوريلا |
| پارسو | برادر | خواهر |

**لور** : د دې نامه عنصر (ل = د) او (و) او (ر) دي، پښتــو نــوم ئــې لنډ او سپک دئ، د نورو ژبو دا نسبتاً درانه دي په دې ډول :

| | |
|---|---|
| سنسکريت | دوهی تر |
| اوستا | دګدهر |
| پارسو | دختر |
| يوناني | تهګاتير |
| جرمني | ټوختر |
| انګليسي | ډاټر |
| آئرش | ډېر |
| سلاوي | ډشتر |
| روسي | ډاچر، ډاچ |

**لېور** : د مېره ورور ته لېور وايي، عنصري توري ئې (ل = ډ) او (ر) دي په لاندي ډول :

| | |
|---|---|
| پښتو | لېور |
| سنسکريت | ديور |
| پارسو | ايور |
| روسي | ديور |
| ليتواني | ديورس |
| يوناني | داير |
| لاتين | ليور |



(**مړ _ مړ**) : پــه سنســکريت کښــي (م،ر) د مـرګ او هـلاک لپـاره عنصري رغونه دي، د پښتو (م،ړ) هم کټ مټ دغسي دي، مړ (مرده) مړتوب (مردگی) مړام (مرده مانند) مړامجا (تنبل مانند مرده) مړينـه (مرگ) ټول له دغي ريښې څخه دي.

دا عنصري توري په اکثرو آريائي ژبو کښي د (هلاکـت او مـرگ) لپاره مستعمل دي، د پارسو (مرگ، مرده) هم ورته نژدې دي امـا پـه نورو آريائي ژبو کښې ريښه بل راز سته.

د آريائيانو لومړی ټک له دريابه ليري وو، دوی چي شاوخوا سـره خپاره سول، درياب ئې وپېژاند، د سلاو او ټيوټن اقوام چــي د بحـر اسود او بالټک پر غاړو اوسېدل، هغه دريابونه ډېر طوفـاني او مهلـک او متلاطم وه، نو دوی په خپلو ژبو کښي لـه زړې آريـائي آری (م،ر) څخه د بحر لپاره نوم جوړ کړ، ځکه چي بحر د دوی په نظر کښي د هلاکت او مرگ ځای وو، په دې ډول (٦) :

| | |
|---|---|
| سلاوی | موری |
| لاتينی | مار |
| ايطالوی | ماري |
| هسپانوی | ماري |
| فرانسوی | مير |
| جرمني | مير |
| انګليسي | مير |

**شکره ، کند** :

ګنی د افغانستان د مشرقي خــواو مخصوصـه مېـوه ده، پـه هنـد کښي هم ډېر دئ، د ګني څخه خوږه ماده جوړوي، چــي پـه پښتـو ئې (ګوره، شکره) بولو، په سنسکريت کښې نوم شـرکيرا (Sharkara) دئ دا نوم داسي عام دئ چي په سامي ژبو کښي هم سـکر راځـي په اروپائي ژبو داسي دئ :

| | |
|---|---|
| لاتيني | سکارم |
| انگليسي | شوگر |
| سلاو | سکر |
| جرمني | زوکر |
| ايتالوي | زکيرو |
| هسپانوي | اشوکر |
| فرانسوي | سکيری |
| عربی | سکر |
| پاړسو | شکر |

وگورئ : عنصري توری ئې (س = ش) او (ک،گ) او (ر) په ټولـو ژبو کښي سته علاوه پر دغه د شکري پاک کړي ډول ته (کَند) وايـو، چي په پاړسو (قند) سوئ دئ، دا نوم خورا زوړ دئ، پـه سنسـکريت کښي کهانډ (Dhand) وُ (۷) په اوستا کښي (خنذه) شيريني ته وايـي ځکه چي شکره او قند له هنده څخـه عربسـتان تـه وړل کېـده، نـو عربو سنسکريت کهانډ معرب او په (قند) تبديل کړ (۸) او قنديـد ئـي هم وباله چي جمع ئې قنود او قناديد راځي (۹). پـه اروپـائي ژبـو کښي هم کينډی او سکري کينډي سته، چي زمـوږ (قنـد) تـه وايـي، (۱۰) که دغو تورو ته وګورو عنصري توري ئې (ک = ق = خ) او (د = ډ = ذ = ړ) دي، نو کهانډ او قند او کند له يوې ريښې دي، او ښـايي چي د اوستا (خنذه) او د پښتو (خوږ) چـي دواړه د شـيرين پـه معنـا دي، هم ورسره شريک وي. ځکه چي د (ک ـ خ) ابـدال عـام دي، او د (د = ذ = ړ) اصوات هم سره ورته دي، (د) پـه (ذ) بـدليږي، پـه پخوانی پاړسو کښي عمومـاً (د) پـه (ذ) کښـل کېـدئ لکـه ميکنـد = ميکنذ. په پښتو د پاړسو گذر = گدر بولي. (ذ) په (ز) اوړي، ځکه چي د يوه مخرجه دي. (ز) او (ړ) هم سره بدليږي، لکه : دوزخ = دوږخ. (۱۱)



## لمن ليکونه


۱ ويدک انډيا ـ ص ۳۶
۲ فرهنگ نظام ـ ج ۴ ـ ص ۳۵۴
۳. د الفاظو د سرگذشت ديباجه
۴ ويدک انډيا ـ ص ۳۸
۵. ويدک انډيا ـ ص ۳۹
۶. ويدک انډيا ـ ص ۴۲
۷ هندوستاني قاموس ـ ۵۹۲
۸. فرهنگ نظام ـ ج ۴ ص ۱۴۲
۹ المنجد ـ ص ۴۷۱
۱۰ ويدک انډيا ـ ص ۱۸
۱۱ کابل مجله، ۱۳۲۴ لمريز کال، ۸ مه گڼه، ۱ ـ ۴ مخونه.